# د حضرت نحمیاه کِتاب

## د حضرت نحمیاه د خپلو خلقو دپاره دُعا کول

۱ (۱) دا د حکلیاه د زوئ د حضرت نحمیاه کلام دے. کله چې ارتخششتا د فارس بادشاه وو نو د هغهٔ د بادشاهۍ په شلم
کال د کِسلیو په میاشت کښې زهٔ یعنې حضرت نحمیاه په مرکزی ښار سوسه کښې وم. (۲) زما ورور حنانی د یهوداه د یو څو
سړو سره راورسېدو او ما د هغوئ نه د یروشلم او د هغه یهودیانو په حقله تپوس وکړو کوم چې د بابل د جلاوطنۍ نه راواپس
شوی وُو. (۳) هغوئ ما ته ووئیل چې کوم کسان د جلاوطنۍ نه بچ شوی وُو او د یهوداه صُوبې ته واپس راغلی وُو هغوئ د
لوئ تکلیف او بې‌عزتۍ سره مخ وُو. هغوئ ما ته دا هم ووئیل چې د یروشلم دېوالونه تر اوسه پورې مات پراتهٔ دی او د دې
دروازې د هغه وخت نه بیا نهٔ دی جوړې شوې چې د کوم وخت نه هغه په اور سوزولے شوې وې. (۴) کله چې زهٔ د دې هر
څهٔ نه خبر شوم، نو زهٔ کښېناستم او ومې ژړل. څو ورځې زهٔ غمژن وم او خوراک مې نهٔ کولو. ما د آسمان خُدائ پاک ته
سوال وکړو (۵) او ما ووئیل، ”اے مالِکه خُدایه، د آسمان خُدایه پاکه، اے عظیمه او د رُعب خُدایه پاکه، تهٔ د هغه چا سره
خپل د رحم لوظ پوره کوې چې څوک درسره مینه کوی او ستا حُکمونه منی، (۶) مالِکه خُدایه، ما ته وګوره او زما سوال
واوره، لکه څنګه چې زهٔ ستا د خِدمتګارانو یعنې بنی اِسرائیلو دپاره شپه او ورځ دُعا کوم. زهٔ دا اِقرار کوم چې مونږ بنی
اِسرائیلو ګناه کړې ده. ما او زما پلار نیکهٔ ګناه کړې ده. (۷) مونږ ستا خِلاف بدعملې کړې ده او تا چې څهٔ حُکم کړے وو په
هغې مو عمل نهٔ دے کړے. تا چې د خپل خِدمتګار موسیٰ په ذریعه کوم قانون مونږ له راکړے وو په هغې مو عمل نهٔ دے
کړے. (۸) تهٔ اوس هغه څهٔ رایاد کړه چې خپل خِدمت کوونکی موسیٰ ته دې فرمائیلی وُو چې کهٔ تاسو بنی اِسرائیلو ما سره
بې‌وفائی وکړه، نو زهٔ به تاسو په نورو قومونو کښې خوارهٔ وارهٔ کړم. (۹) خو کهٔ بیا تاسو ما ته راوګرځېدئ او زما په حُکمونو
عمل کوئ، نو زهٔ به تاسو واپس هغه ځائ ته راولم کوم ځائ چې ما د خپل نوم د درناوی دپاره خوښ کړے دے، کهٔ تاسو د
دُنیا د یو سر نه تر بل سره پورې هم خوارهٔ وارهٔ یئ. (۱۰) مالِکه خُدایه، دا ستا خِدمتګاران او ستا خپل خلق دی. تا هغوئ د خپل
لوئ طاقت او قوت سره په بیعه آزاد کړل. (۱۱) مالِکه خُدایه، اوس زما سوال واوره او د خپلو نورو ټولو خِدمتګارانو دُعاګانې
واوره چې چا ته ستا د نوم په درناوی کولو کښې خوشحالی ملاوېږی. او ما له کامیابی راکړه او داسې بادشاه نن په ما مِهربانه
کړه. د هغهٔ په زړهٔ کښې دا خبره واچوه چې په ما رحم وکړی.“ په هغه وخت کښې زهٔ د بادشاه ساقی وم.

## د حضرت نحمیاه یروشلم ته تلل

۲ (۱) د ارتخششتا بادشاه د بادشاهۍ په شلم کال د نیسان په میاشت کښې په کوم وخت چې بادشاه له مے راغلل، نو ما مے
واخستل او بادشاه له مې ورکړل. زهٔ د هغهٔ په حضور کښې د دې نه مخکښې هیڅکله نهٔ وم خفه شوے، (۲) نو ځکه هغهٔ تپوس
وکړو، ”تهٔ ولې دومره غمژن یې؟ تهٔ خو بیمار هم نهٔ یې، ما ته پته ده چې تهٔ ډېر سخت خفه یې.“ زهٔ ډېر زیات یرېدم (۳) او
جواب مې ورکړو، ”بادشاه سلامت، خُدائ دې تا له ډېر عُمر درکړی. زهٔ به ولې خفه نهٔ یم چې په کوم ښار کښې زما پلار نیکهٔ
ښخ شوی دی هغه تباه شوے دے او د هغې دروازې په اور تباه شوې دی؟“ (۴) بادشاه را نه تپوس وکړو، ”تهٔ څهٔ غواړې؟“ نو
ما د آسمانونو خُدائ پاک ته سوال وکړو، (۵) او بیا مې بادشاه ته ووئیل، ”بادشاه سلامت، کهٔ تهٔ په ما باندې مِهربانی کول
غواړې او دا چې زما درخواست منظور کړې، نو ما له دا اجازت راکړه چې زهٔ یهوداه ته لاړ شم، نو چې داسې زهٔ هغه ښار بیا
جوړ کړم چرته چې زما پلار نیکهٔ ښخ شوی دی.“ (۶) نو بادشاه په هغه وخت کښې زما درخواست منظور کړو، چې مَلِکه د
هغهٔ په څنګ کښې ناسته وه. هغهٔ زما نه تپوس وکړو چې د څومره وخت دپاره به ځې او بیا به کله واپس راځې، (۷) بیا ما هغهٔ
ته ووئیل چې په ما دا مِهربانی وکړه چې ما له د فرات سیند نمرپرېواتهٔ طرف ته د صُوبې د حکمرانانو دپاره خطونه راکړه، چې
په کښې هغوئ ته دا لیکلی شوی وی چې ما له اجازت راکړی چې د هغوئ په مُلک کښې یهوداه ته په خیر سره سفر وکړم. (۸)
ما د شاهی ځنګلو څوکیدار آسف دپاره هم یو خط وغوښتو، چې هغهٔ ته په کښې لیکلی شوی وُو چې د هغه قلعې د دروازو دپاره

چې د خُدائ پاک د کور حِفاظت کوی، د ښار د دېوالونو دپاره او د هغه کور دپاره ما له لرګی راکړی چې په کوم کښې به زۀ
اوسېدم. ما چې څۀ غوښتی وُو نو بادشاه ما له هغه هر څۀ راکړل، ځکه چې خُدائ پاک په ما مِهربانه وو. ﴿۹﴾ نو بادشاه ما
سره يو څو فوجی آفسران او په آسونو د سوارو کسانو يوه ډله ولېږله او زۀ د نمرپرېواتۀ طرف ته فرات په سفر باندې روان
شوم. هلته مې حکمرانانو له د بادشاه خطونه ورکړل. ﴿۱۰﴾ خو د بيت‌حورون ښار سنبلط، او طوبياه چې هغه د عمون صُوبې يو
آفسر وو، خبر شو چې څوک راغلی دی چې د بنی اِسرائيلو د فائدې دپاره کار کوی، نو هغوئ ډېر زيات خفه شول.

## د نحمياه د يروشلم د دېوالونو معائنه کول

﴿۱۱﴾ زۀ يروشلم ته لاړم او تر درېو ورځو پورې ﴿۱۲﴾ ما هيچا ته هغه خبره ونۀ کړه چې کومه خُدائ پاک زما په زړۀ کښې د
يروشلم په حقله اچولې وه. بيا په نيمه شپه زۀ پاڅېدم او بهر لاړم، يو څو ملګری مې ځان سره کړل. مونږ صِرف يو څناور د
ځان سره بوتلو، دا هغه خر وو چې په کوم زۀ سور وم. ﴿۱۳﴾ کله چې زۀ د ښار نه روان شوم نو تر اوسه پورې شپه وه. د وادئ
په دروازه باندې ووتلم او د ګيدړ کوهی نه تېر شوم او د ګند دروازې ته لاړم. کله چې زۀ روان وم، نو ما د ښار غورزېدلی
دېوالونه او هغه دروازې وليدې کومې چې په اور تباه شوې وې. ﴿۱۴﴾ نو بيا زۀ د فوارې دروازې ته او د بادشاه تالاب ته لاړم،
خو په کوم خر باندې چې ما سورلی کوله نو هغۀ د تېرېدو لار پيدا نۀ کړه، ﴿۱۵﴾ بيا زۀ لاندې د قِدرون وادئ ته لاړم او په خر
باندې سور وم، دېوال ته مې کتل. بيا زۀ په هغه لار راواپس شوم چې په کومه راغلے وم او د وادئ په دروازه باندې واپس ښار
ته لاړم. ﴿۱۶﴾ د هغې علاقې يو آفسر ته هم دا پته ونۀ لګېده چې زۀ چرته وم يا مې څۀ کول. تر اوسه پورې ما يهوديانو، اِمامانو،
مشرانو، آفسرانو، يا بل چا ته هيڅ نۀ وُو وئيلی چې څوک به دا کار کوی. ﴿۱۷﴾ خو بيا ما هغوئ ته ووئيل، ”ګورئ مونږ په دې
وجه په تکليف کښې يُو چې يروشلم تباه شوے دے او د دې دروازې سوزولے شوې دی. راځئ چې د يروشلم دېوالونه بيا جوړ
کړُو او د دې بې‌عزتئ نه ځان خلاص کړُو.“ ﴿۱۸﴾ او ما هغوئ ته ووئيل چې خُدائ پاک زما څنګه مل وو او هغه څۀ مې ورته
ووئيل چې ما ته بادشاه وئيلی وُو. نو هغوئ په جواب کښې ووئيل، ”راځئ چې د دېوالونو په جوړولو بيا شروع وکړُو.“ او هغوئ
د نېکئ په دې کار کولو باندې شروع وکړه. ﴿۱۹﴾ کله چې سنبلط حورونی، عمونی طوبياه او جشم نومې يو عربے زمونږ د
منصوبې نه خبر شول، نو هغوئ په مونږ پورې ټوقې او مسخرې وکړې او وې وئيل، ”تاسو دا څۀ شروع کړی دی؟ ولې تاسو د
بادشاه خِلاف بغاوت کول غواړئ؟“ ﴿۲۰﴾ ما جواب ورکړو، ”د آسمان خُدائ پاک به مونږ له کاميابی راکړی. مونږ د هغۀ خِدمت
کوونکی يُو او مونږ کار شروع کوُو. خو تاسو په يروشلم کښې د جائيداد لرلو هيڅ حق نۀ لرئ، او نۀ حِصه لرئ.“

## د يروشلم د دېوال بيا جوړېدل

۳ ﴿۱﴾ بيا مشر اِمام اِلياسب او د هغۀ ملګرو اِمامانو د ګډو دروازه بيا جوړه کړه، هغوئ هغه وقف کړه او دروازې يې په خپل
ځائ ولګولې. هغوئ د سلو مينارو پورې دېوال او د حننايل ميناره پورې دېوال وقف کړو. ﴿۲﴾ د يريحو خلقو ورپسې برخه
جوړه کړه. د اِمری زوئ زکور بله برخه جوړه کړه. ﴿۳﴾ د سناآه قبيلې د کبانو دروازه جوړه کړه. هغوئ تيرونه او دروازې په
خپل ځائ باندې ولګولې، د دروازې د تالا کولو دپاره يې سيخونه او زنځيرونه ولګول. ﴿۴﴾ د اورياه زوئ او د هقوض نمسی
مريموت ورپسې برخه جوړه کړه. د برکياه زوئ او د مشيزبايل نمسی مسلام ورپسې برخه جوړه کړه. د بعنه زوئ صدوق بله
برخه جوړه کړه. ﴿۵﴾ د تقوع سړو ورپسې برخه جوړه کړه، خو د هغوئ مشرانو د هغه کار کولو نه اِنکار وکړو کوم کار چې
هغوئ ته خپلو ټېکدارانو حواله کړے وو. ﴿۶﴾ د فاسح زوئ يويدع او د بسودياه زوئ مسلام د يسانه دروازه بيا جوړه کړه.
هغوئ تيرونه او دروازې په خپلو ځايونو کښې ولګول او د تاله کولو دپاره يې په دروازه کښې اړمونه او کُنډې ولګول. ﴿۷﴾ د
جبعون ملطياه، د مرونوت يدون او د جبعون او مصفاه سړو ورپسې برخه جوړه کړه چې د نمرپرېواتۀ طرف ته فرات د
حکمران کور پورې حِصه وه. ﴿۸﴾ د حرهياه زوئ عُزئ‌ايل زرګر ورپسې برخه جوړه کړه. حننياه عطر جوړوونکی ورپسې برخه
جوړه کړه، چې د پلن دېوال پورې حِصه وه. ﴿۹﴾ د يروشلم د نيمې ضِلعې حکمران د حُور زوئ رفاياه ورپسې برخه جوړه کړه.
﴿۱۰﴾ د حرومف زوئ يدعياه ورپسې برخه جوړه کړه، کومه چې د هغۀ د خپل کور سره نزدې وه. د حسبنياه زوئ حطوش

وریسې برخه جوړه کړه. ⑪ د حارِم زوئ مُلکیاه او د پخت موآب زوئ حسوب دوئ دواړو وریسې برخه او د تنور میناره بې جوړه کړه. ⑫ د یروشلم د نورې نیمې ضِلعې حکمران یعنې د هلوحیس زوئ سلوم وریسې برخه جوړه کړه. د هغهٔ لونړو په دې کار کښې د هغهٔ مدد کولو. ⑬ حنون او د زنوح ښار اوسېدونکو د وادئ دروازه بیا جوړه کړه. هغوئ هغه دروازې په خپلو خپلو ځایونو باندې ولګولې، هغوئ د دروازې تالا کولو دپاره په دې کښې سیخونه او زنځیرونه ولګول او د ګند دروازې پورې هغوئ پینځهٔ سوه ګزه دېوال بیا جوړ کړو. ⑭ د بیتهکرم ضِلعې حکمران د ریکاب زوئ مُلکیاه د ګند دروازه بیا جوړه کړه. هغهٔ دروازې په خپلو ځایونو باندې ولګولې او د دروازې تالا کولو دپاره یې په کښې سیخونه او زنځیرونه ولګول. ⑮ د مصفاه ضِلعې حکمران د کولحوزه زوئ سلوم د فوارې دروازه بیا جوړه کړه. هغهٔ د دروازې دپاسه چت جوړ کړو، دروازې یې په خپل ځائ باندې ولګولې او سیخونه او زنځیرونه یې په کښې ولګول. د سِلح تالاب سره د شاهی باغ سره نزدې هغهٔ دېوال جوړ کړو، دا تر هغه ځائ پورې وو چرته چې د داؤد د ښار نه لاندې پورې کوزې شوې وې. ⑯ د بیتصور د نیمې ضِلعې حکمران د عُزبق زوئ نحمیاه وریسې برخه جوړه کړه، چې دا د داؤد د خاندان د قبرستان، تالاب او د فوجیانو کورونو پورې وه.

## هغه لیویان چې چا په دېوال باندې کار کولو

⑰ دې لیویانو د هغه دېوال نورې برخې بیا جوړې کړې: د بانی زوئ رحُوم وریسې برخه جوړه کړه، د قعیله د نیمې ضِلعې حکمران، حسبیاه د خپلې ضِلعې د طرفه وریسې برخه جوړه کړه، ⑱ د قعیله د نورې نیمې ضِلعې د حکمران د حنداد زوئ باوی وریسې برخه جوړه کړه، ⑲ د مصفاه حکمران د یشوَع زوئ ایصر د وسلې د ګودام په مخکښې وریسې حِصه جوړه کړه، دا تر هغه ځائ پورې وه چرته چې دېوال تاویږی، ⑳ د زبی زوئ باروک وریسې برخه جوړه کړه، دا تر هغه ځائ پورې وه چرته چې د مشر اِمام اِلیاسب کور ته د ننوتلو دروازه وه، ㉑ د اوریاه زوئ او د هقوض نمسی مریموت وریسې برخه جوړه کړه، چې دا د اِلیاسب د کور تر آخری سر پورې رسېدلې وه.

## هغه اِمامان چې په دېوال یې کار کولو

㉒ دې اِمامانو د دېوال یو څو نورې برخې بیا جوړې کړې: د یروشلم د ګېرچاپېره علاقې نه اِمامانو وریسې برخه بیا جوړه کړه، ㉓ بنیامین او د حسوب وریسې برخه جوړه کړه، کومه چې د هغوئ کورونو ته مخامخ وه، د معسیاه زوئ او د عننیاه نمسی عزریاه وریسې برخه جوړه کړه، کومه چې د هغهٔ د کور مخې ته وه، ㉔ د حنداد زوئ بِنوئی وریسې برخه جوړه کړه، چې دا د عزریاه د کور نه واخله د دېوال د ګوټ پورې وه، ㉕-㉖ د اُوزی زوئ فالال وریسې برخه جوړه کړه، د دېوال د ګوټ نه او د څوکیدارۍ دربار ته نزدې د محل برنی مینارې نه یې شروع وکړه، د پرعوس زوئ فدایاه وریسې برخه جوړه کړه، دا برخه د هغه ځائ پورې وه چې نمرختهٔ طرف ته یې د اوبو دروازه او د خُدائ پاک د کور د څوکیدارۍ اوچته میناره وه. دا برخه د ښار د هغه حِصې سره نزدې وه چې نوم یې عوفل وو، چرته چې د خُدائ پاک د کور کاریګران اوسېدل.

## د دېوال نور جوړوونکی

㉗ د تقوع سړو وریسې برخه جوړه کړه، د هغوئ دویمه برخه، د هغه ځائ نه واخله چې د خُدائ پاک د کور د څوکیدارۍ د لوئې مینارې مخامخ وه د هغې نه واخله تر عوفل سره نزدې دېوال پورې وه. ㉘ د اِمامانو یوې قبیلې وریسې برخه جوړه کړه، چې شمالی طرف ته د آسونو د دروازې نه تلې وه، هر یو د خپل کور په مخکښې حِصه جوړه کړه. ㉙ د اِمیر زوئ صدوق وریسې برخه جوړه کړه، کومه چې د هغهٔ کور په مخکښې وه. د نمرختهٔ طرف دروازې څوکیدار د سکانیاه زوئ سمعیاه وریسې برخه جوړه کړه. ㉚ د شلمیاه زوئ حننیاه او د صلف شپږم زوئ حنون وریسې دویمه برخه جوړه کړه. د برکیاه زوئ مسلام وریسې برخه جوړه کړه، کومه چې د هغهٔ کور مخې ته وه. ㉛ مُلکیاه زرګر وریسې برخه جوړه کړه، دا تر هغې پورې وه چې کوم کور د خُدائ پاک د کور کاریګرو او سوداګرو استعمالولو، کوم چې د حاضرۍ دروازې سره وو، دا د هغه کوټې سره نزدې وو چې د شمالی نمرختهٔ طرف ته د ګوټ دېوال دپاسه وو. ㉜ زرګرانو او سوداګرو آخری برخه جوړه کړه، دا د ګوټ

سره د کوټې نه واخله د ګېټو د دروازې پورې وه.

## د حضرت نحمیاه کامیابېدل

۴ ۱ کله چې سنبلط خبر شو چې مونږ یهودیانو دېوال جوړول بیا شروع کړی دی، نو هغه سخت غصه شو او مونږ پورې یې
خندا شروع کړه. ۲ د خپلو ملګرو او د سامرى فوجیانو په مخکښې یې ووئیل، "دا بدبخته یهودیان چې څۀ کوی د هغې په
حقله یې څۀ خیال دے؟ د هغوئ اراده د ښار بیا جوړولو ده څۀ؟ ولې د هغوئ خیال دا دے چې صِرف د یو څو قربانو پېش
کولو په وجه به هغوئ هغه دېوال په یوه ورځ کښې جوړ کړی؟ هغوئ د سوزېدلو کاڼو او د ملبې د ډېرى نه د عمارت کاڼى
جوړولے شی څۀ؟" ۳ طوبیاه هلته د هغۀ په څنګ کښې ولاړ وو او دا خبره یې وکړه، "هغوئ څۀ قسم دېوال جوړولے شی؟
داسې چې یو لومبړه یې هم راغورزولے شی." ۴ ما دُعا وکړه، "خُدایه پاکه، د هغوئ خندا واوره چې په مونږ پورې یې کوی،
د هغوئ کنځل دې هم هغوئ ته بلا شی. هغوئ دې وتښتولے شی او پردی مُلک ته دې قېدیان بوتلے شی. ۵ هغوئ چې کوم
بد عمل کوی هغه مۀ معاف کوه او د هغوئ ګناهونه مۀ هېروه، ځکه چې مونږ کله دېوال جوړولو نو هغوئ زمونږ بې‌عزتی کړې
ده." ۶ نو مونږ د دېوال په جوړولو باندې لګیا وُو او دا دېوال زر د نیم اوچتوالی پورې جوړ شو، ځکه چې خلقو به په شوق
سره د دې کار کولو. ۷ خو کله چې سنبلط، طوبیاه، او د عربو، د عمون او د اشدود خلقو واورېدل چې د یروشلم د دېوال د
بیا جوړېدلو کار شروع شوے وو او چې د دېوال غورزېدلی ځایونه بیا جوړیږی نو هغوئ سخت غصه شُو. ۸ نو هغوئ ټولو
دا منصوبه جوړه کړه چې راشی او په یروشلم باندې حمله وکړی او ګډوډی پیدا کړی، ۹ خو مونږ خپل خُدائ پاک ته سوال
وکړو او د هغوئ خِلاف مو شپه او ورځ په څوکیدارۍ باندې سړی ولګول. ۱۰ د یهوداه خلقو یوه سندره لرله او هغوئ ووئیله،
"مونږ مزدوران کمزوری شوی یُو، دومره ماتې خَښتې به څنګه اوچتوُو. مونږ دا دېوال نن څنګه جوړ کړُو؟" ۱۱ زمونږ د
دشمنانو خیال دا وو چې مونږ به خپل دشمنان ونۀ ګورو او نۀ به تر هغې پورې دا پته راته ولګی چې څۀ کېړی چې ترڅو پورې
هغوئ مونږ ته رارسېدلی نۀ وی، مونږ به ووژنی او زمونږ کار به بند کړی. ۱۲ خو چې زمونږ د دشمنانو سره کوم یهودیان
اوسېدل هغوئ وخت په وخت راتلل او چې زمونږ دشمنانو زمونږ خِلاف کومې منصوبې جوړولې نو د هغې نه به یې خبرولو.
۱۳ نو ما خلقو له تُورې، نېزې او غشی ورکړل او قبیله په قبیله مې د دېوال شاته په هغه ځایونو کښې ودرول چرته چې کار لا
ختم شوے نۀ وو. ۱۴ ما ته پته ولګېده چې خلق یرېدلی وُو، نو ما هغوئ، او د هغوئ مشرانو او آفسرانو ته ووئیل، "زمونږ د
دشمنانو نه مۀ یرېږئ. یاد ساتئ چې مالِک خُدائ ډېر لوئ او یرووونکے دے او ستاسو وطنداراڼو، ستاسو زامنو، لوڼو، ښځو او
ستاسو د کورونو دپاره جنګ وکړئ." ۱۵ زمونږ دشمنان خبر شول چې مونږ ته دا پته لګېدلې ده چې هغوئ څۀ منصوبه
جوړوله او چې خُدائ پاک د هغوئ منصوبې خرابې کړې دی. نو مونږ ټول د دېوال د بیا جوړولو دپاره واپس روان شُو. ۱۶ د
هغه وخت نه واخله زما نیمو سړو به کار کولو او نیم کسان به د څوکیدارۍ دپاره ولاړ وُو. هغوئ زغرې اغوستې وې او نېزې،
ډالونه او غشی ورسره وُو. او زمونږ مشرانو د خلقو سره پوره مدد کولو، ۱۷ یعنې د هغه خلقو سره چا چې دېوال جوړولو.
چې کومو کسانو به د عمارت سامان وړلو نو هغوئ به هم په یو لاس باندې کار کولو او په بل لاس کښې به یې وسله نیولې وه،
۱۸ او هر چا به چې د جوړولو کار کولو نو هر یو به په خپله ملا پورې تُوره تړلې وه خو چې کوم سړی به د خبردارۍ دپاره
بیګل غږولو نو هغه به ما سره ایساربدو. ۱۹ ما خلقو، د هغوئ آفسرانو او مشرانو ته ووئیل، "دا کار په دومره ډېره فاصله
باندې خور دے چې مونږ په دېوال باندې د یو بل نه ډېر زیات لرې یُو. ۲۰ کۀ تاسو د بیګل آواز واورئ، نو ما ته راغونډ شئ.
زمونږ خُدائ پاک به زمونږ دپاره جنګ کوی." ۲۱ نو هره ورځ، د سحر نه واخله د شپې تر هغه وخته پورې چې ستورى به
راښکاره شول، زمونږ نیمو کسانو به کار کولو، خو هغه نور نیم به د نېزو سره د څوکیدارۍ دپاره ولاړ وُو. ۲۲ په هغه وخت
کښې ما هغه مشرانو سړو ته ووئیل چې هغوئ او د هغوئ ټول مدد کوونکی به د شپې په یروشلم کښې ایساریږی، نو چې داسې
مونږ د شپې د ښار څوکیداری کوُو او د ورځې به کار کوُو. ۲۳ ما د شپې هم خپلې جامې نۀ ویستلې، نۀ زما ملګرو، نۀ زما
خِدمتګارانو او نۀ زما څوکیدارانو ویستلې. او کۀ مونږ د اوبو دپاره هم تلو نو مونږ ټولو به وسله د ځان سره ساتله.

## د حضرت نحمیاه د غریبانانو دپاره فکرمند کېدل

**۵** ۱ څۀ موده وروستو ډېرو سړو او ښځو، د خپلو يهوديانو خِلاف شکايت شروع کړو. ۲ څۀ کسانو ووئيل، ”زمونږ
خاندان غټ شوے دے او د ژوندی پاتې کېدو دپاره مونږ ته د خوراک ضرورت دے.“ ۳ څۀ کسانو ووئيل، ”مونږ خپل پټی،
د انګورو باغونه او خپل کورونه د دې دپاره ګاڼه کړی دی چې د قحط په وخت کښې راته کافی خوراک مِلاو شی.“ ۴ خو څۀ
کسانو دا هم ووئيل، ”مونږ پېسې قرض کړې وې چې په خپلو پټو او د انګورو په باغونو مو بادشاه له محصُول ورکړی. ۵
مونږ يهوديان د يو نسل نه يُو. ولې زمونږ بچی د هغوئ د بچو په شان نۀ دی؟ خو بيا هم مونږ مجبور يُو چې د خپلو بچو نه
غلامان جوړوُو. زمونږ څۀ لوڼه د وړاندې نه د وينځو په توګه خرڅې شوې دی. مونږ په دې وجه بې‌مددګاره يُو چې زمونږ پټی او
د انګورو باغونه زمونږ نه اخستے شوی دی.“ ۶ کله چې ما د هغوئ شکايتونه واورېدل، نو زۀ غصه شوم. ۷ په دې باندې
د سوچ کولو نه پس، ما د خلقو مشران او آفسران ورټل او ورته مې ووئيل، ”تاسو د خپلو خلقو نه سود اخلئ.“ نو ما د دې دپاره
د خلقو يو جرګه راوغوښته چې د دې مسئلې حل راوباسو ۸ او ورته مې ووئيل، ”زمونږ چې څومره وس وی نو مونږ خپل
هغه يهودی خپلوان واپس اخلو کومو چې خپل ځانونه په غېرو خلقو باندې خرڅ کړی دی. خو اوس تاسو خپل رشته‌داران او
خپل خلق دې ته مجبوروئ چې خپل ځانونه په تاسو باندې خرڅ کړی.“ مشران خاموش ولاړ وُو او د وئيلو دپاره ورسره هيڅ هم
نۀ وُو. ۹ بيا ورته ما ووئيل، ”تاسو چې څۀ کوئ دا ټيک نۀ دی. په کار دی چې تاسو زمونږ د خُدائ پاک نه په يره کښې ژوند
تېر کړئ نو چې مونږ د غېرو قومونو د دشمنانو د پېغور نه خپل ځانونه بچ کړُو. ۱۰ ما خلق دې ته پرېښی دی چې زما نه پېسه
او غله قرض واخلی او هم زما د ملګرو او خلقو نه چې زما دپاره کار کوی. نو راځئ چې دا سود اخستل بند کړُو. ۱۱ نو تاسو
به نن خامخا هغوئ له د هغوئ پټی، د انګورو باغونه، د زيتُونو ونې او د هغوئ کورونه واپس ورکوئ. او لکه کله چې مو پېسې،
غله، د انګورو نوی مے او د زيتُونو تېل قرض ورکول او چې کوم سود مو ترې نه اخستے دے هغه واپس ورکړئ.“ ۱۲
مشرانو ورته ووئيل، ”تا چې څۀ ووئيل مونږ به هغه هم دغه شان وکړُو. مونږ به جائيدادونه واپس کړُو او د قرض د راغونډولو
کوشش به نۀ کوُو.“ نو ما اِمامان راوغوښتل او د هغوئ په مخکښې مې د مشرانو نه دا قسم واخستلو چې هغوئ اوس اوس
کومه وعده وکړه نو هغه به پوره کوی. ۱۳ نو ما خپله لمن وشنډله او ومې وئيل، ”کۀ تاسو دا وعده پوره نۀ کړه، نو خُدائ پاک
دې تاسو د خپلو کورونو او خپلو جائيدادونو نه داسې وشنډی.“ نو ټولو خلقو په جواب کښې ووئيل، ”آمين“ او هغوئ د مالِک
خُدائ ثناء صِفت وکړو. او خلقو هم هغه شان وکړل چې څنګه يې وعده کړې وه.

## د حضرت نحمیاه سخاوت

۱۴ په هغه ټولو دولسو کالو کښې چې زۀ د يهوداه د مُلک حکمران وم، د ارتخشستا د سلطنت د شلم کال نه د هغۀ د بادشاهۍ
د دوه دېرشم کال پورې، نۀ ما او نۀ زما خپلوانو هغه خوراک خوړلے دے چې کوم د حکمران دپاره مقرر وو. ۱۵ زما نه
مخکښې به چې کوم يو حکمران هم په دفتر کښې وو هغه به په خلقو بوج وو. د ميو او د خوراک دپاره به يې هره ورځ ترې نه
څلوېښت د سپينو زرو سکې غوښتې. د هغوئ نوکرانو به هم د خلقو سره زياتے کولو. خو ما به د هغوئ په شان کار نۀ کولو،
ځکه چې زۀ د خُدائ پاک نه يرېدلم. ۱۶ ما خپل ځان د دېوال د بيا جوړولو دپاره وقف کړے وو او هيڅ جائيداد مې نۀ
اخستلو. هر چا چې زما دپاره کار کولو نو هغه د دېوال په بيا جوړېدو کښې شريک وُو. ۱۷ ما به د خپل دسترخوان نه هره
ورځ يو نيم سل يهوديانو او د هغوئ مشرانو له روټۍ ورکوله. دا د هغه ټولو خلقو نه علاوه وُو کوم چې د ګېرچاپېره مُلکونو نه ما
له راغلی وُو. ۱۸ هره ورځ به مې يو غويَے، شپږ ښۀ ګډان او ډېرې چرګې تيارولې او په هره لسمه ورځ مې د انګورو د تازه ميو
بندوبست کولو. خو بيا هم ما هغه پېسې نۀ غوښتلې کومې چې د حکمران دپاره مقررې وې، ځکه چې خلقو ډېر درund بوج
برداشت کولو. ۱۹ نو اے خُدايه پاکه، زۀ ستا نه سوال کوم چې زما هغه هر يو کار ياد ساته چې ما د دې خلقو دپاره کړے
دے.

## د حضرت نحمیاه خِلاف منصوبې

۶ ۱ سنبلط، طوبیاه، عربی جشم او زمونږ نور دشمنان خبر شول چې مونږ د دېوال جوړول ختم کړی دی او چې په دې
کښې یو مات ځائ هم پاتې نهٔ دے، اګر چې مونږ د دروازو په ځایونو کښې دروازې هم لا نهٔ وې لګولې. ۲ نو سنبلط او جشم
ما له یو پېغام راولېږلو، دا مشوره یې راکوله چې د اونو په مېدان کښې په یو کلی کښې زهٔ د هغوئ سره مِلاو شم. خو ما ته پته
ولګېده چې دا ما ته د هغوئ د نقصان رسولو یوه منصوبه وه. ۳ ما هغوئ له پېغام وړُونکی ولېږل چې ورته ووائی، "زهٔ یو اهم
کار کوم او لاندې نهٔ شم درتلے. صِرف تاسو سره مِلاوېدو دپاره خپل کار نهٔ شم بندولے." ۴ هغوئ څلور ځلې ما له هم دغه
پېغام رالېږلو او هر ځل ما هغوئ له هم دغه جواب ورولېږلو. ۵ بیا سنبلط خپل یو نوکر ما له د پینځم پېغام سره راولېږلو، دا
د خط په شکل کښې وو او دا خط کولاو وو. ۶ ما ولوستلو، "جشمه ووئیل چې په ګاونډیانو کښې دا افواه خوره ده چې تهٔ او
یهودیان د بغاوت اراده لرئ نو دا ځکه تاسو دا دېوال بیا جوړَوئ. هغهٔ دا هم ووئیل چې ستا منصوبه دا ده چې خپل ځان
بادشاه کړې ۷ او تا د یو څو پېغمبرانو بندوبست کړے دے چې په یروشلم کښې دا اِعلان وکړی چې تهٔ د یهوداه بادشاه یې.
خو بادشاه سلامت به یقیناً د دې نه خبر شی، نو ځکه زهٔ دا مشوره درکوم چې مونږ دواړه مِلاو شُو چې په حالاتو باندې خبرې
وکړُو." ۸ نو ما هغهٔ له جواب ورولېږلو، "تهٔ چې څهٔ وائې په هغهٔ کښې هیڅ هم رښتیا نشته. دا هر څهٔ تا د خپل ځان نه جوړ
کړی دی." ۹ د هغوئ دا کوشش وو چې مونږ ویروی چې کار بند کړُو. خو ما دُعا وکړه، "خُدایه پاکه، ما له طاقت راکړه."
۱۰ په هغه وخت زهٔ د مهیطبایل نمسی او د دلایاه زوئ سمعیاه سره مِلاوېدو له لاړم، چې هغه د دې قابل نهٔ وو چې د خپل
کور نه لاړ شی. هغهٔ ما ته ووئیل، "زهٔ او تهٔ به لاړ شُو او د خُدائ پاک د کور په مقدس ځائ کښې به دواړه پټ شُو او دروازې به
تالا کړُو، ځکه چې هغوئ ستا د وژلو دپاره راروان دی. نو هغوئ به ستا د وژلو دپاره د شپې راشی." ۱۱ ما په جواب کښې
ورته ووئیل، "زهٔ داسې سړے نهٔ یم چې وتښتم او پټ شم. ستا خیال دا دے څهٔ چې زهٔ به د خپل ژوند د بچ کولو دپاره د خُدائ
پاک په کور کښې پټېږم؟ زهٔ به داسې نهٔ کوم." ۱۲ کله چې ما په دې باندې سوچ وکړو، نو ما ته پته ولګېده چې خُدائ پاک د
سمعیاه سره خبرې نهٔ دی کړې، خو طوبیاه او سنبلط هغهٔ له د دې دپاره رشوت ورکړے دے چې ما له دا خبردارے راکړی.
۱۳ هغوئ هغهٔ له د دې دپاره پېسې ورکړې وې چې ما ویروی او زهٔ ګناه وکړم، نو چې هغوئ زما شُهرت خراب کړی او ما
سپک کړی. ۱۴ ما دُعا وکړه، "خُدایه پاکه، چې طوبیاه او سنبلط څهٔ کړی دی هغه یاد ساته او سزا ورکړه. هغه ښځه نوعیدیاه
او نور ټول پېغمبران یاد ساته چا چې زما د یرولو کوشش کړے دے."

## د کار ختمول

۱۵ د کار دوه پنځوسمې ورځې نه پس د الول د میاشتې په پینځویشتمه ورځ ټول دېوال ختم شو. ۱۶ کله چې په ګېرچاپېره
مُلکونو کښې زمونږ دشمنان د دې نه خبر شول، نو هغوئ وېرېدل او خپل ځانونه ورته کمزوری ښکاره شول، ځکه چې هغوئ
ته پته وه چې دا کار د خُدائ پاک د مدد سره شوے دے. ۱۷ په دې ټول وخت کښې د یهودیانو مشرانو او طوبیاه یو بل ته ډېر
خطونه لېږل رالېږل. ۱۸ په یهوداه کښې ډېرو خلقو د طوبیاه ملګرتیا ځکه کوله چې د هغهٔ سخر د ارخ زوئ سکانیاه یهودی وو.
د دې نه علاوه، د هغهٔ زوئ یهوحنان د برکیاه د زوئ د مسلام لور وادهٔ کړې وه. ۱۹ طوبیاه چې کوم ښهٔ کارونه کړی وُو نو
خلقو به د هغې ټولو په حقله زما په وړاندې خبرې کولې او ما چې څهٔ وئیل نو هغه به یې طوبیاه ته وئیل. او هغهٔ زما د یرولو
دپاره خطونه رالېږل.

۷ ۱ نو دېوال بیا جوړ شو، ټولې دروازې په خپلو ځایونو کښې ولګولے شوې او څوکیداران، حمد ویونکی او لیویان مقرر
کړے شول. ۲ ما دوه سړی د یروشلم په ښار باندې مشران مقرر کړل، هغه زما ورور حنانی او د قلعه مشر آفسر حننیاه وُو.
حننیاه اعتمادی سړے وو او هغه د نورو نه زیات د خُدائ پاک نه یرېدو. ۳ ما هغوئ ته ووئیل، "ترڅو پورې چې نمر تود
شوے نهٔ وی نو د یروشلم دروازې به نهٔ کولاووئ. په کوم وخت کښې چې څوکیداران په ماښام کښې چهټی کوی نو هغوئ دې
دروازې بندوی او اړمونه دې ورته واچوی. ما هغوئ ته دا هم ووئیل چې د یروشلم د اوسېدونکو خلقو نه یو څو څوکیداران

مقرر کړئ چې څۀ کسانو ته په کښې خاص ځايونه حواله شی او نور دې د خپلو کورونو نه ګېرچاپېره ګشت کوی.“

## د هغه کسانو تفصيل چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول

(۴) يروشلم يو لوئ ښار وو، خو ډېر خلق په کښې نۀ اوسېدل او ډېر کورونه په کښې نۀ وُو جوړ شوی. (۵) خُدائ پاک دا خيال زما په زړۀ کښې واچولو چې دا خلق، د هغوئ مشران او آفسران راغونډ کړم او د هغوئ نسب‌نامه وګورم. ما د هغه خلقو حِساب کِتاب پيدا کړو کوم چې اول د جلاوطنۍ نه راواپس شوی وُو او ما ته چې کوم معلومات مِلاو شول هغه دا دی: (۶) ډېر جلاوطن شوی کسان د بابل صُوبې نه لاړل او يروشلم او يهوداه ته راواپس شول، هر يو خپل ښار ته راغلو. د هغوئ خاندان په بابل کښې د جلاوطنۍ په دوران کښې د هغه وخت نه اوسېدې چې نبوکدنضر بادشاه هغوئ هلته قېديان بوتلی وُو. (۷) د هغوئ مشران دا وُو، زرُبابل، يشوَع، نحمياه، عزرياه، رعمياه، نحمانی، مردکی، بِلشان، مِسفرت، بِګوئ، نحُوم او بعنه. ۸-۲۵دا د بنی اِسرائيلو د ډلو تفصيل دے، دا تفصيل د هغه هرې قبيلې د کسانو د شمېر سره دے کوم چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول: د پرعوس اولاد دوه زره يو سل او دوه اويا، د سفطياه اولاد درې سوه او دوه اويا، د ارخ اولاد شپږ سوه او دوه پنځوس، د پخت موآب اولاد چې هغوئ د يشوَع او يوآب اولاد وو، په شمېر کښې دوه زره اتۀ سوه او اتلس وُو، د عيلام اولاد يو زر دوه سوه څلور پنځوس، د زتُو اولاد اتۀ سوه او پينځۀ څلوېښت، د زکی اولاد اووۀ سوه او شپېته، د بِنوئی اولاد شپږ سوه او اتۀ څلوېښت، د ببی اولاد شپږ سوه او اتۀويشت، د عزجاد اولاد دوه زره درې سوه او دوويشت، د ادونِقام اولاد شپږ سوه او اووۀ شپېتۀ، د بِګوئ اولاد دوه زره او اووۀ شپېتۀ، د عدين اولاد شپږ سوه او پينځۀ پنځوس، د اطير اولاد چې د هغۀ نوم حزقياه هم وو، دوه کم سل کسان، د حاشوم اولاد درې سوه او اتۀويشت، د بِضی اولاد درې سوه او څليريشت، د خاريف اولاد يو سل او دولس، د جبعون اولاد پينځۀ کم سل. ۲۶-۳۸د کومو خلقو پلار نيکۀ چې په دې ښارونو کښې اوسېدل هغوئ هم راواپس شول: بيت‌لحم او نطوفه، يو سل او اتۀ اتيا کسان، عنتوت، يو سل او اتۀويشت کسان، بيت‌عزماوت، دوه څلوېښت کسان، قِريَت‌يعريم، کفيره او بيروت، اووۀ سوه او درې څلوېښت کسان، راما او جبعه، شپږ سوه او يوويشت کسان، مِکماس، يو سل او دوويشت کسان، بيت‌ايل او عی، يو سل او درويشت کسان، د بل نبو دوه پنځوس کسان، د بل عيلام يو زر دوه سوه او څلور پنځوس کسان، حارِم، درې سوه او شل کسان، يريحو، درې سوه او پينځۀ څلوېښت کسان، لد، حاديد او اونو، اووۀ سوه او يوويشت کسان، سناآه، درې زره نهۀ سوه او دېرش کسان. ۳۹-۴۲دا د اِمامانو د ډلو تفصيل دے چې هغوئ د جلاوطنۍ نه راواپس شول: د يشوَع اولاد يدعياه، نهۀ سوه او درې اويا، اِمير، يو زر او دوه پنځوس، فشحور، يو زر دوه سوه او اووۀ څلوېښت، حارِم، يو زر او اوولس. ۴۳-۴۵د ليويانو قبيلې چې د جلاوطنۍ نه راواپس شوې: د هوداوه اولاد يشوَع او قدمی‌ايل، څلور اويا، د آسف اولاد د خُدائ پاک د کور موسيقاران يو سل او اتۀ څلوېښت، د خُدائ پاک د کور څوکيداران چې د سلوم، اطير، طلمون، عقوب، حطيطا او شوبی اولاد وو هغوئ يو سل او اتۀ دېرش وُو. ۴۶-۵۶د خُدائ پاک د کور د خِدمتګارانو قبيلې چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول: ضيحا، حسوفا، طبعوت، قروس، سيعا، فدون، لبانه، حجابه، شملی، حنان، جِديل، جحر، رياياه، رضين، نقودا، جزام، عُزا، فاسح، بسئ، معُونيم، نفوسيم، بقبوق، حقوفا، حرحُور، بضلوت، محيدا، حرشاه، برقوس، سِسيرا، تامح، نضياح او خطيفا. ۵۷-۵۹د سليمان د نوکرانو قبيلې چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول: سوطی، سوفرت، فريدا، يعله، درقون، جِديل، سفطياه، حِطيل، فوکرت‌هضبائم او امون. ۶۰د خُدائ پاک د کور د خِدمتګارانو اولاد او د سليمان د هغه نوکرانو شمېر اتۀ کم څلور سوه وو کوم چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول. ۶۱-۶۲د دلاياه، طوبياه او نقودا د ډلو کسان شپږ سوه او دوه څلوېښت وُو کوم چې د تل ملح، تل حرشا، کروب، عدون او اِمير ښارونو نه راواپس شول، خو هغوئ دا نۀ شول ثابتولے چې هغوئ د بنی اِسرائيلو اولاد دے. ۶۳-۶۴د اِمامانو دې ډلو داسې هيڅ شجره نسب پېدا نۀ کړو چې هغوئ د خپل پلار نيکۀ ثبوت پېش کړی: حباياه، هقوض، برزلی. (د اِمامانو د قبيلې برزلی پلار نيکۀ په جِلعاد کښې د برزلی د قبيلې يوه ښځه وادۀ کړې وه او د خپل سخر د قبيلې نوم يې وړے وو.) هغوئ دا نۀ شوه ثابتولے چې د هغوئ پلار نيکۀ څوک وُو، نو په دې وجه هغوئ اِمامان نۀ شول منلے کېدے. ۶۵يهودی حکمران هغوئ ته وئيلی وُو چې هغوئ تر هغې پورې خُدائ پاک ته پېش کړے شوے خوراک نۀ شی خوړلے چې ترڅو پورې اِمام اُوريم او تميم نۀ وی استعمال کړے. ۶۶-۶۹کوم کسان چې د جلاوطنۍ نه راواپس شول هغوئ ټول په شمېر کښې دوه څلوېښت زره درې سوه او شپېتۀ کسان وُو. د هغوئ ښځې او نران نوکران په شمېر کښې اووۀ زره درې سوه

او اووهٔ دېرش ؤُو، ښځې او نران موسيقاران دوه سوه او پينځهٔ څلويښت، آسونه اووهٔ سوه او شپږ دېرش، قچر دوه سوه او پينځهٔ څلويښت، اوښان څلور سوه او پينځهٔ دېرش، خرونه شپږ زره اووهٔ سوه او شل. ۷۰-۷۲ ډېرو خلقو په هغه چنده ورکولو کښې مدد کولو چې د خُدائ پاک د کور د بيا جوړولو باندې خرچ شوې وه: حکمران اتهٔ کلو سرهٔ زر ورکړل، پنځوس جامونه چې د خُدائ پاک په کور کښې استعمال شی، د اِمامانو دپاره پينځهٔ سوه او دېرش چُوغې، د قبيلو مشرانو يو سل او درې پنځوس کلو سرهٔ زر ورکړل، يو زر او څلور سوه او اتهٔ پنځوس کلو سپين زر، باقی نورو خلقو يو سل او درې پنځوس کلو سرهٔ زر ورکړل، يو زر او درې سوه پينځويشت کلو سپين زر، د اِمامانو دپاره اووهٔ شپېتهٔ چُوغې، ۷۳ اِمامان، ليويان، څوکيداران، سندرغاړی، او څهٔ عام خلق، د خُدائ پاک د کور خِدمتګاران، او ټول بنی اِسرائيليان په وړو ښارونو او د يهوداه په ښارونو کښې دېره شول.

## د عزرا خلقو ته شريعت لوستل

**۸** ۱ تر اوومې مياشتې پورې ټول بنی اِسرائيل په خپلو ښارونو کښې دېره شول. د دې مياشتې په اوله ورځ هغوئ ټول په يروشلم کښې د اوبو دروازې سره دننه د جرګې په ځائ کښې راغونډ شول. هغوئ عزرا عالِم ته ووئيل چې د موسیٰ د شريعت هغه کِتاب راوړی کوم چې مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو له ورکړے وو. ۲ نو عزرا د شريعت کِتاب هغه ځائ ته راوړو او دا د اوومې مياشت اوله ورځ وه چرته چې خلق راغونډ ؤُو. په هغوئ کښې سړی، ښځې او هغه ماشومان ؤُو چې د هغوئ عُمر دومره وو چې په دې باندې پوهېدل. ۳ هلته د دروازې سره د جرګې په ځائ کښې هغهٔ ورته د سحر وختی نه واخله تر غرمې پورې شريعت لوستلو او هغوئ ټولو ورته په توجو سره غوږ اېښے وو. ۴ عزرا د لرګی د پايو په ممبر باندې ولاړ وو کوم چې د دې موقعې دپاره جوړ شوے وو. دا کسان د هغهٔ ښی طرف ته ولاړ ؤُو، متتياه، سمع، عناياه، اورياه، خِلقياه، او معسياه، او دا کسان يې ګس طرف ته ولاړ ؤُو، فداياه، ميسائيل، مُلکياه، حاشوم، حسبدانه، زکرياه او مسلام. ۵ عزرا په داسې اوچت ځائ باندې ولاړ وو چې ټولو خلقو ليدلے شو. چې څنګه هغهٔ کِتاب کولاو کړو، نو هغوئ ټول ودرېدل. ۶ عزرا وفرمائيل، "د مالِک خُدائ د لوئ خُدائ پاک ثناء صِفت دې وی." نو ټولو خلقو خپل لاسونه اوچت کړل او وې وئيل، "آمين، آمين." هغوئ په عبادت کښې ټيټ شول او په زمکه يې مالِک خُدائ ته سجده ولګوله. ۷ بيا هغوئ په خپلو خپلو ځايونو باندې ودرېدل، او دې ليويانو ورته د شريعت تشريح وکړه، يشوَع، بانی، سربياه، يمين، عقوب، سبتی، هودياه، معسياه، قليتاه، عزرياه، يوزبد، حنان او فلاياه. ۸ هغوئ ورته د خُدائ پاک شريعت ولوستلو او د دې تشريح يې ورته وکړه، چې خلق يې په مطلب باندې پوهه شی. ۹ کله چې خلقو ته پته ولګېده چې د شريعت مطالبه څهٔ ده، نو هغوئ په ژړا شروع وکړه. نو نحمياه چې حکمران وو، عزرا چې د شريعت اِمام او عالِم وو او هغه ليويانو چې د شريعت تشريح يې کوله هغوئ ټولو هغه خلقو ته وفرمائيل چې، "دا ورځ د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک دپاره مقدسه ده، نو تاسو له نهٔ دی په کار چې غم يا ژړا وکړئ. ۱۰ نو د خوراک ښښاک دپاره خپلو کورونو ته لاړ شئ او په خپل خوراک او ميو کښې د هغه خلقو هم حِصه وکړئ چې چا سره دا څيزونه نهٔ وی. نن زمونږ د مالِک خُدائ دپاره يوه مقدسه ورځ ده، نو مهٔ خفه کېږئ. د مالِک خُدائ خوشحالی ستاسو د طاقت بنياد دے." ۱۱ نو ليويانو خلق قلارول او ورته يې وئيل چې په داسې مقدسه ورځ خفګان مهٔ کوئ. ۱۲ نو ټول خلق خپلو کورونو ته لاړل او په خوشحالی سره يې خوراک ښښاک وکړو او په دې خوراک ښښاک کښې يې د نورو خلقو حِصه هم وکړه، ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک کلام اورېدلے وو او په هغې پوهه شوی ؤُو.

## د جونګړو اختر

۱۳ په وربسې ورځ د ډلو مشران چې د هغوئ اِمامان او ليويان هم ورسره ؤُو، هغوئ عزرا عالِم له لاړل چې د شريعت حُکمونه زده کړی. ۱۴ هغوئ ته دا پته ولګېده چې هغه شريعت دا حُکم کوی کوم چې مالِک خُدائ د موسیٰ په ذريعه ورکړے وو چې د جونګړو د اختر په دوران کښې دې بنی اِسرائيليان په جونګړو کښې اوسيږی. ۱۵ نو هغوئ ورته دا اصُول وښودل او ټول يې يروشلم او نورو وړو او غټو ښارونو ته ولېږل، "غرونو ته لاړ شئ او د نختر، د زيتُونو، د کجورو او د هغه نورو ونو لښتې راؤړئ

چې سورے جوړوی، چې د هغه اصُولو په مطابق جونګړې جوړې کړُو چې د شریعت په کِتاب کښې لیکلے شوی دی.“ ⑯ نو خلقو څانګې راوړې او د خپلو کورونو په چتونو، په خپلو صحنونو کښې، د خُدائ پاک د کور په دربار کښې او د اِفرائیم دروازې او د اوبو دروازې سره د جرګې په عوامی ځایونو کښې یې جونګړې جوړې کړې. ⑰ هغه ټول خلق کوم چې د جلاوطنۍ نه واپس راغلی وُو هغوئ جونګړې جوړې کړې او په هغې کښې اوسېدل او هر یو کس جذباتی او خوشحاله وو. د نون زوئ یشوَع د وخت نه پس داسې نۀ وُو شوی. ⑱ د اختر د وړومبی ورځې نه واخله تر آخری ورځې پورې هغوئ هره ورځ د خُدائ پاک د شریعت یوه حِصه لوستله. هغوئ اووۀ ورځې دا اختر وکړو او په اتمه ورځ د اختر د ختمېدو اجتماع وشوه، هم هغه شان لکه څنګه چې په شریعت کښې لازمی شوی وُو.

## د خلقو د خپلو ګناهونو اِقرار کول

**٩** ① هم د هغه میاشتې په څلیرویشتمه ورځ بنی اِسرائیل راغونډ شول، او روژه یې نیولې وه، د ټاټ جامې یې اغوستې وې او په خپلو سرونو باندې یې خاورې اچولې وې. ② ټولو بنی اِسرائیلو د پردی وطن د خلقو نه ځانونه جدا کړی وُو. بیا هغوئ ودرېدل او د هغه ګناهونو اِقرار شروع کړو کوم چې هغوئ او د هغوئ پلار نیکۀ کړی وُو. ③ تقریباً درې ګینټې هغوئ ولاړ وُو او د مالِک خُدائ د هغوئ د خُدائ پاک قانون ورته ولوستلے شو او وریسې درې ګینټې هغوئ د خپلو ګناهونو اِقرار وکړو او د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک عبادت یې وکړو. ④ هلته د لیویانو په ممبر باندې دا کسان ولاړ وُو، یشوَع، بانی، قدمی‌ایل، شبنیاه، بُنی، سربیاه، بانی او کنعنیاه. هغوئ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته په چغو چغو وژړل. ⑤ د لیویانو دې مشرانو خلقو ته آواز وکړو، یشوَع، قدمی‌ایل، بانی، حسبنیاه، سربیاه، هودیاه، شبنیاه او فتحیاه، او هغوئ ووئیل: ”پاڅئ او د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ، د هغۀ ثناء صِفت همېشه همېشه کوئ. د هغۀ د شان شوکت والا نوم دې برکتناک وی، دا دې د ټولو صِفتونو او برکتونو نه اوچت وی.“

## د اِقرار دُعا

⑥ او بیا بنی اِسرائیلو دا دُعا وکړه، ”مالِکه خُدایه، یواځې تۀ مالِک خُدائ یې، تا آسمانونه او د آسمان ستوری جوړ کړی دی. تا زمکه او سمندر او په دې کښې هر څۀ جوړ کړی دی، تا هر څیز له ساه ورکړې ده. آسمانی مخلوق تا ته سجده کوی او ستا عبادت کوی. ⑦ مالِکه خُدایه، خُدایه پاکه، تا ابرام غوره کړو، او تا هغه د بابل ښار اُور نه راوویستلو، تا د هغۀ نوم اِبراهیم ته بدل کړو. ⑧ تا ته پته ولګېده چې هغه ستا وفادار دے، نو تا د هغۀ سره یو لوظ وکړو. دا لوظ چې د کنعانیانو مُلک به ورکوې، د حِتیانو او اموریانو مُلک، د فرزیانو، یبوسیانو او جرجاسیانو مُلک، چې هغه به داسې یو مُلک وی چې د هغۀ اولاد به کښې اوسیږی. تا خپله وعده څکه پوره کړه چې تۀ وفادار یې. ⑨ تا وکتل چې زمونږ پلار نیکۀ په مِصر کښې څومره کړېدلی وُو، تا د بحرِقُلزم سره د هغوئ د مدد دپاره فریاد واورېدو. ⑩ تا د فِرعون خِلاف عجیبه معجزې وکړې، دا معجزې د هغۀ آفسرانو او د هغه مُلک د خلقو خِلاف وې، څکه چې تا ته پته وه چې هغوئ ستا په خلقو باندې څومره ظلم کولو. تا هغه شُهرت حاصل کړو چې تر ننه پورې یې لرې. ⑪ تا د خپلو خلقو دپاره په دریاب کښې لار جوړه کړه او هغوئ دې په اوچه زمکه باندې تېر کړل. او چې څوک وریسې وُو نو هغوئ په زوړو اوبو کښې ډُوب شول، داسې لکه چې یو غضبناک سمندر کښې کاڼے ډوبیږی.
⑫ د ورځې د ستنې په ذریعه تا هغوئ د ورځې په وخت بوتلل، او د شپې په وخت دې د اور د ستنې په ذریعه د هغوئ په لار کښې رڼا جوړوله. ⑬ د سینا غر سره تۀ د آسمان نه راکوز شوې، تا د خپلو خلقو سره خبرې وکړې او هغوئ ته دې اِنصاف قانون او ښۀ اصُول وښودل. ⑭ تا هغوئ ته وښودل چې ستا د سبت ورځ مقدسه وګڼی، او تا د خپل خِدمت کوونکی موسیٰ په ذریعه هغوئ له خپل قانون ورکړو. ⑮ کله چې هغوئ اوږی وُو، نو تا هغوئ له د آسمان نه روټۍ ورکړه، او چې کله هغوئ تږی وُو نو تا د یو کاڼی نه هغوئ له اوبۀ ورکړې. تا هغوئ ته ووئیل چې هغه مُلک قبضه کړئ د کوم چې تا هغوئ له د ورکولو وعده کړې وه. ⑯ خو زمونږ پلار نیکۀ مغروره او ضدیان شول او ستا د حُکمونو د منلو نه یې اِنکار وکړو. ⑰ هغوئ نافرمانی وکړه، تا چې کومې معجزې کړې وې هغه یې هېرې کړې. په خپله سرکشۍ کښې هغوئ یو مشر خوښ کړو چې د مِصر

غلامۍ له يې واپس بوځی. خو تهٔ بخښونکے خُدائ پاک يې، تهٔ مهربان او مينه کوونکے يې، زر نهٔ غصه کېږې. ستا رحم لوئ
دے، تا هغوئ پرې نهٔ ښودل. ۱۸ هغوئ د سخی په شکل کښې يو بُت جوړ کړو او وې وئيل چې دا هغه خُدائ دے چې تاسو يې
د مِصر نه راوويستلئ. مالِکه خُدايه، هغوئ ستا ځومره بېعزتی وکړه. ۱۹ خو هغوئ دې هلته په صحرا کښې پرې نهٔ ښودل،
ځکه چې ستا رحم ډېر لوئ دے. تا نهٔ د ورځې او نهٔ د اور ستن لرې کړه چې د شپې او ورځې يې ورته لار ښودله. ۲۰ تا د
خپل نېک روح په ذريعه د هغوئ لارښودنه وکړه، تا هغوئ له د خوراک دپاره من ورکولو او د څښلو دپاره دې اوبهٔ ورکولې.
۲۱ په صحرا کښې په ټولو څلوېښتو کالو کښې چې هغوئ ته د څهٔ ضرورت وو د هغې هر څهٔ بندوبست دې ورله وکړو، د
هغوئ جامې هيڅکله زړې نهٔ شوې، او د هغوئ پښې ونهٔ پړسېدلې. ۲۲ په قومونو او بادشاهو فتح کولو کښې تا د هغوئ مدد
کولو، او تا خپل خلق په هر ځائ کښې آباد کړل. هغوئ د حسبون مُلک فتح کړو، چرته چې سيحون بادشاهی کوله، او د بسن
مُلک، چرته چې عوج بادشاه وو. ۲۳ تا هغوئ له دومره بچی ورکړل لکه چې په آسمان کښې ځومره ستوری دی، او تا هغوئ
راوستل چې هغه مُلک قبضه کړی او هلته اوسيږی هغه مُلک کوم چې تا د هغوئ پلار نيکهٔ له د ورکولو وعده کړې وه. ۲۴
هغوئ د کنعان مُلک قبضه کړو، هلته چې کوم خلق اوسېدل تهٔ په هغوئ باندې غالِب راغلې. تا خپلو خلقو له هغه طاقت ورکړو
چې د هغوئ سره هغه شان کار وکړی چې څهٔ يې خوښه وی ځوک چې د کنعان بادشاهان او خلق وُو. ۲۵ ستا خلقو د پَخو
دېوالونو ښارونه قبضه کړل، چې آباده زمکه، د دولت نه ډک کورونه ونيسی، هغه کوهی چې د مخکښې نه کنستلے شوی دی، د
زيتُونو ونې، د مېوو ونې او د انګورو باغونه. هغوئ په مړه خېټه خوراک کولو او غټ شول، تا چې کوم ښهٔ څيزونه هغوئ له
ورکړی وُو د هغه هر څهٔ نه يې خوند اخستلو. ۲۶ خو ستا خلقو سرکشی وکړه او ستا نافرمانی يې وکړه، هغوئ ستا قانون ته
شا کړه. هغوئ به هغه پېغمبران وژل چې خبردارے يې ورکولو، کومو چې ورته فرمائيل چې تا ته واپس راوګرځی. هغوئ ستا
خِلاف لويه ګستاخی کوله، ۲۷ نو تا هغوئ خپلو دشمنانو ته حواله کړل. په خپلو تکليفونو کښې هغوئ تا ته د مدد دپاره چغه
کړه، او په آسمان کښې تا د هغوئ فرياد واورېدو. د خپل لوئ رحم په وجه تا هغوئ له خلاصوونکی ورولېږل چا چې هغوئ د
دشمنانو نه بچ کړل. ۲۸ کله به چې خبر شو، نو هغوئ به ستا خِلاف بيا ګناه وکړه، او تا يو ځل بيا هغوئ دشمنانو ته حواله
کړل. خو کله چې هغوئ توبه وويستله او سوال يې وکړو چې هغوئ بچ کړې، نو په آسمان کښې تا وخت په وخت د هغوئ
سوال اورېدو او تا د خپل لوئ رحم په وجه هغوئ بچ کول. ۲۹ تا هغوئ له خبردارے ورکړو چې ستا قانون ته بيا راواپس شی،
خو په غرور سره هغوئ ستا قانون و نهٔ منلو، اګر چې ستا د قانون منل د ژوند لاره ده. هغه د سخت زړهٔ او ضديانو خلقو
نافرمانی وکړه او تا ته يې غوږ نهٔ نيولو. ۳۰ ډېر کالونه تا هغوئ ته صبر کولو. تا د خپلو پېغمبرانو په ذريعه هغوئ له خبردارے
ورکولو، خو ستا خلقو غوږ نهٔ نيولو، نو تا هغوئ نورو قومونو ته حواله کړل چې فتح يې کړی. ۳۱ خو ستا د لوئ رحم په وجه،
تا هغوئ نهٔ پرېښودل او نهٔ دې تباه کړل. تهٔ رحمان او رحيم خُدائ پاک يې. ۳۲ اے خُدايه پاکه، زمونږ خُدايه پاکه، تهٔ ځومره
لوئ يې، تهٔ ځومره د رُعب والا او طاقتور يې. تهٔ په وفادارۍ سره خپل لوظ پوره کوې. د هغه وخت نه کله چې د اسور
بادشاهانو په مونږ ظلم کولو، تر اوسه پورې، مونږ ځومره کړېدلی یُو. زمونږ بادشاهان، زمونږ مشران، زمونږ اِمامان او زمونږ
پېغمبران، زمونږ پلار نيکهٔ او زمونږ ټول خلق کړېدلی دی. مونږ چې ځومره کړېدلی یُو نو هغه مهٔ هېروه. ۳۳ تا ښهٔ وکړل چې
مونږ له دې سزا راکړه، اګر چې مونږ ګناه هم کړې ده، خو تا مونږ سره اِنصاف وکړو. ۳۴ زمونږ بادشاهانو، زمونږ مشرانو او
زمونږ اِمامانو، زمونږ پلار نيکهٔ ستا قانون نهٔ دے منلے. هغوئ ستا قانون او خبردارۍ ته غوږ نهٔ نيولو. ۳۵ کهٔ څهٔ هم چې د
هغوئ په بادشاهۍ کښې تا هغوئ له لوئ برکت ورکړے وو، کله چې هغوئ په هغه کولاو او آباد مُلک کښې اوسېدل کوم چې تا
هغوئ له ورکړے وو، خو بيا هم هغوئ د ګناه نه راونهٔ ګرځېدل او نهٔ يې ستا خِدمت کړے وو. ۳۶ نو مونږ تر اوسه په هغه
مُلک کښې غلامان یُو چې تا زمونږ پلار نيکهٔ له ورکړے وو، چې د هغې په مېوه او پېداوار باندې مزې وکړی. ۳۷ چې زمکه څهٔ
پېدا کوی نو هغه بادشاهانو له ځی چې زمونږ د ګناه په وجه تا په مونږ باندې مقرر کړی دی. هغوئ زمونږ او زمونږ د ځاروو
سره هغه څهٔ کوی چې څهٔ يې خوښه وی، او مونږ په يوه سخته پرېشانۍ کښې یُو."

## د خلقو يوه معاهده کول

۳۸ "چې دا هر څهٔ شوی دی نو مونږ بنی اِسرائيليان دا پخه ليکلې معاهده کوُو او زمونږ مشران، ليويان او زمونږ اِمامان به په

دې باندې خپل مهرونه ولګوی.“

۱۰ ۱ کومو کسانو چې دستخطونه وکړل هغوئ دا وُو: د حکلیاه زوئ نحمیاه حکمران. صدقیاه، ۲-۸شرایاه، عزریاه،
یرمیاه، فشحور، امریاه، مُلکیاه، حطوش، شبنیاه، ملوک، حارِم، مریموت، عبدیاه، دانیال، جِنتون، باروک، مسلام، ابیاه،
میامین، معزیاه، بِلجی او سمعیاه. ۹-۱۳لیویان: د ازنیاه زوئ یشوَع، د حنداد د قبیلې بِنوئی، قدمیاېل، شبنیاه، هودیاه، قلیتاه،
فلایاه، حنان، میکا، رِحوب، حسبیاه، زکور، سربیاه، شبنیاه، هودیاه، بانی او بنینو. ۱۴-۲۷د خلقو مشران: پرعوس، پخت موآب،
عیلام، زتُو، بانی، بُنی، عزجاد، ببی، ادونیاه، بِګوئ، عدین، اطیر، حزقیاه، عزور، هودیاه، حاشوم، بِضی، خاریف، عنتوت، نوبی،
مګفیعاس، مسلام، حزیر، مشیزب‌ایل، صدوق، یدوع، فلطیاه، حنان، عنایاه، هوسیع، حننیاه، حسوب، هلوحیس، فلیحا، سویبق،
رحُوم، حسبناه، معسیاه، اخیاه، حنان، عنان، ملوک، حارِم او بعنه.

## د لوظ لیک

۲۸موږ یعنې بنی اِسرائیلو، اِمامانو، لیویانو، څوکیدارانو، سندرغاړو، د خُدائ پاک د کور خِدمتګارانو او هغه نورو ټولو خلقو د
خُدائ پاک د قانون د تابعدارئ په بنیاد خپل ځانونه د پردی مُلک د هغه خلقو نه جدا کړی وُو کوم چې زمونږ په مُلک کښې
اوسېدل. موږ د خپلو ښځو او د هغه ټولو بچو سره د کومو عُمر چې پوهېدو ته رسېدلے دے، ۲۹موږ د خپلو مشرانو سره په یو
قسم کولو کښې شریک شُو او ومو وئیل چې موږ کۀ قسم مات کړو نو په موږ دې لعنت وی او دا چې موږ به د خُدائ پاک د
قانون په مطابق خپل ژوند تېروو، هم هغه قانون کوم چې خُدائ پاک د خپل خِدمت کوونکی موسیٰ په ذریعه راکړے وو، چې
موږ به هغه هر څۀ منو چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک یې حُکم راکوی، او چې موږ به د هغۀ ټول قانون او اصُول منو.
۳۰موږ دا وعده وکړه چې د هغه مُلک د غېرو قومونو خلقو له به خپلې لوڼه نۀ ورکوو او د هغوئ لوڼه به خپلو زامنو ته نۀ وادۀ
کوُو. ۳۱کۀ د پردی مُلک خلق څۀ غله یا بل هر څیز هم د سبت یا په بله هره مقدسه ورځ په موږ باندې د خرڅولو دپاره راوړی،
نو موږ به یې د هغوئ نه نۀ اخلو. په هر اوؤم کال به موږ زمکه نۀ کرو او ټول قرضونه به معاف کوُو. ۳۲زمونږ هر یو کس به هر
کال پینځۀ ګرامه سپین زر د خُدائ پاک د کور د خرچې دپاره په چنده کښې ورکوی. ۳۳موږ به د خُدائ پاک د کور د عبادت
دپاره د دې څیزونو بندوبست کوُو، مقدسه روټۍ، د هرې ورځې د غلې نذرانه، هغه څناور چې هره ورځ د قربانۍ په توګه
سوزولے شی، د سبت د ورځو، د نوې میاشتې د اختر او د نورو اخترونو دپاره مقدسې نذرانې، د بنی اِسرائیلو د ګناه کفارې
دپاره نذرانې او هغه بل هر یو څیز چې د خُدائ پاک په کور کښې یې ضرورت وی. ۳۴زمونږ خلق، اِمامان او لیویان به هر کال
پچه اچوی چې دا معلومه کړی چې کومه یوه ډله د مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک په قربان‌ګاه باندې د سوزولو دپاره لرګو
بندوبست کوی او دا به د قانون په مطابق وی. ۳۵موږ به هر کال د خپل وړومبی رېبلے شوی فصل او زمونږ په ونو کښې د
وړومبی پېدا شوې مېوې یوه نذرانه د مالِک خُدائ کور ته وړُو. ۳۶زمونږ د هر یو کس وړومبے پېدا شوے زوئ به اِمامانو له د
خُدائ پاک کور ته بوځُو او هلته به یې د خُدائ پاک د ښودلی شوی قانون په مطابق خُدائ پاک ته وقف کوُو. زمونږ د هر یو
کس د غواګانو وړومبے پېدا شوے سخے او زمونږ د هر یو کس وړومبے پېدا شوے ګډُورے یا د چېلۍ بچے به هم وقف
کیږی. ۳۷موږ به هر کال اِمامانو له د خُدائ پاک کور ته د وړومبی رېبلی شوی فصل نه جوړې شوې پېړې او د انګورو د مېو
خپلې نورې نذرانې، د زیتُونو تېل او هر قِسم مېوې هم وړُو. او موږ به هغه هر څۀ نه لسمه حِصه لیویانو له راؤړو څۀ چې زمونږ
په پټو کښې شوی دی، ځکه چې هغوئ زمونږ په کلو کښې د دې څیزونو د راټولو ذمه وار دی. ۳۸کله چې لسمه حِصه راټولولے
شی نو د هارون د اولاد اِمامان به لیویانو سره وی. او د هغه ټولې راټولې شوې لسمې حِصې نه به لیویان لسمه حِصه د خُدائ
پاک د کور ګودامونو ته یوسی. ۳۹بنی اِسرائیل او لیویان به د فصل، مېو او د زیتُونو تېلو برخې هغه ګودامونو ته یوسی چرته
چې د خُدائ پاک د کور سامان کېښودلے شی او چرته چې اِمامان، د دروازو څوکیداران او سندرغاړی حاضر وی. موږ به
زمونږ د خُدائ پاک د کور نه مخ نۀ اړوُو.

## په یروشلم کښې اوسېدونکی خلق

۱۱ (۱) مشران په یروشلم کښې دېره شول او باقی خلقو پچه واچوله چې د هر لسم خاندان نه یو خاندان خوښ کړی چې لاړ
شی او د یروشلم په مقدس ښار کښې اوسیږی، خو هغه نور په خپلو ښارونو کښې اوسېدل. (۲) خلقو د هغه ټولو خلقو دپاره
برکت وغوښتو چې کوم په رضاکارانه توګه په یروشلم کښې اوسېدل. (۳) د یهوداه په ښارونو کښې بنی اِسرائیل، اِمامان،
لیویان، د خُدائ پاک د کور کاریګران او د سلیمان د نوکرانو اولاد په خپلو ښارونو کښې په خپلو جائیدادونو کښې اوسېدل. دا
د یهوداه صُوبې د مشرانو ښاریانو تفصیل دے کوم چې په یروشلم کښې اوسېدل: (۴) د یهوداه قبیلې کسان دا دی: د زکریاه
نمسے او د عُزیاه زوئ عتایاه. د هغۀ په آباواجداد کښې امریاه، سفطیاه او محللاِیل شامل وُو، چې د یهوداه زوئ د فارص
اولاد وو. (۵) او هم د کولحوزه نمسے او د باروک زوئ معسیاه. د هغۀ په آباواجداد کښې حزایاه، عدایاه، یویریب او زکریاه
شامل وُو، چې د یهوداه د زوئ سیله اولاد وو. (۶) د فارص د اولاد څلور سوه او اتۀ شپېتۀ ښۀ تکړه سړی په یروشلم کښې
اوسېدل. (۷) د بنیامین د قبیلې کسان دا دی: د یوئید نمسے او د مسلام زوئ سلو وو. د هغۀ په نورو آباواجداد کښې فدایاه،
قولایاه، معسیاه، ایتیاِیل او یشعیاه شامل وُو. (۸) د سلو نزدې خپلوان جبی او سلی وُو. ټول نهۀ سوه او اتۀویشت بنیامینیان په
یروشلم کښې اوسېدل. (۹) د زِکری زوئ یواِیل د هغوئ مشر وو، د هسینواَه زوئ یهوداه په ښار کښې دویم مشر آفسر وو. (۱۰)
اِمامان: د یویریب زوئ یدعیاه او یکین. (۱۱) شرایاه زوئ د خِلقیاه، زوئ د مسلام، زوئ د صدوق، زوئ د مرایوت، زوئ د
اخیطوب، څوک چې د خُدائ پاک د کور مشر اِمام وو. (۱۲) د دې قبیلې ټولو اتۀ سوه او دوویشتو کسانو د خُدائ پاک په کور
کښې خِدمت کولو. د فللیاه نمسے او د یروحام زوئ عدایاه. د هغۀ په آباواجداد کښې امصی، زکریاه، فشحور او مُلکیاه شامل
وُو. (۱۳) د هغۀ د قبیلې ټول دوه سوه او دوه څلوېښت کسان د کورَنو مشران وُو. د اخزائی نمسے او د عزراِیل زوئ امشی. د
هغۀ په آباواجداد کښې اِمیر او مسلموت شامل وُو. (۱۴) د هغۀ د قبیلې یو سل او اتۀویشت کسان ښۀ تکړه فوجیان وُو. د هغوئ
مشر زبدیاِیل وو چې د هجدولیم زوئ وو. (۱۵) لیویان: د عزریقام نمسے او د حسوب زوئ سمعیاه. د هغۀ په آباواجداد کښې
حسبیاه او بُنی شامل وُو. (۱۶) سبتی او یوزبد، د خُدائ پاک د کور نه د بهر کار مشران وُو. (۱۷) د زبدی نمسے او د میکا زوئ
متنیاه چې د آسف د اولاد نه وو. هغۀ د خُدائ پاک په کور کښې د عبادت په وخت کښې د حمدوثناء رهنمائی کوله. او بقبوقیاه
په متنیاه پسې دویم سړے وو. د جلال نمسے او د سموع زوئ عبدا د یدوتون د اولاد نه وو. (۱۸) د یروشلم په مقدس ښار کښې
ټول دوه سوه او څلور اتیا لیویان اوسېدل. (۱۹) د خُدائ پاک د کور څوکیداران: عقوب، طلمون او د هغوئ خپلوان، ټول یو
سل او دوه اویا کسان وُو. (۲۰) نور بنی اِسرائیلیان او پاتې اِمامان او لیویان د یهوداه په ښارونو کښې په خپلو خپلو جائیدادونو
کښې اوسېدل. (۲۱) د خُدائ پاک د کور خِدمتګاران د یروشلم په هغه برخه کښې اوسېدل چې نوم یې عوفل وو او هغوئ د
ضیحا او جِسفا د مشرۍ لاندې کار کولو. (۲۲) د لیویانو هغه مشر چې په یروشلم کښې اوسېدو هغه د حسبیاه نمسے او د بانی
زوئ عُزی وو. د هغۀ په پلارانو نیکونو کښې متنیاه او میکا شامل وُو او هغه د آسف د قبیلې نه وو. دا هغه ډله وه چې د دې
کسان د خُدائ پاک په کور کښې د موسیقۍ ذمه وار وُو. (۲۳) د دې دپاره شاهی اصُول مقرر وُو چې قبیلې به هره ورځ د خُدائ
پاک د کور په موسیقۍ کښې مشری څنګه کوی. (۲۴) د یهوداه قبیلې د زارح د قبیلې د مشیزباِیل زوئ فتحیاه د فارس په دربار
کښې د بنی اِسرائیلو نمائندګی کوله.

## د یروشلم نه بهر کلی

(۲۵) ډېر خلق د خپلو پټو سره نزدې په کلو کښې اوسېدل. څۀ کسان چې د یهوداه د قبیلې وُو نو هغوئ په قِریَت‌اربع، دیبون،
یقبضیاِیل او د دې ښارونو سره نزدې کلو کښې اوسېدل. (۲۶) هغوئ د یشوَع، مولاده او بیت‌فِلط په ښارونو کښې هم اوسېدل،
(۲۷) او داسې په حصارسعول، بیرسبع او د دې نه ګېرچاپېره کلو کښې هم اوسېدل. (۲۸) هغوئ د صِقلاج په ښار کښې، مقوناه
او د دې نه ګېرچاپېره کلو کښې، (۲۹) په عین رِمون، صُرعا، یرموت، (۳۰) په زنوح، عدولام او نزدې کلو کښې اوسېدل. هغوئ په
لکیس او په نزدې پټو کښې او په عزیقه او د دې په کلو کښې اوسېدل. نو د یهوداه خلق د بیرسبع نه واخله د هنوم وادۍ پورې
اوسېدل. (۳۱) د بنیامین قبیلې خلق په دې ځایونو کښې اوسېدل، جبعه، مِکماس، عیاه، بیت‌اِیل او د دې نزدې کلو کښې، (۳۲) په

عنتوت، نوب، عننیاه، ﴿۳۳﴾ حصور، راما، جیتم، ﴿۳۴﴾ حادید، صبوئیم، نبلاط، ﴿۳۵﴾ لد، اونو او په هغه وادئ کښې چې چرته
کاریګر اوسېدل. ﴿۳۶﴾ د لیویانو څهٔ قبیلې کومې چې د یهوداه په علاقه کښې اوسېدلې وې هغوئ د بنیامین د خلقو سره اوسېدو
دپاره ولېږل شول.

## د اِمامانو او لیویانو تفصیل

۱۲ ﴿۱﴾ دا د هغه اِمامانو او لیویانو تفصیل دے کوم چې د شلتی‌ایل زوئ زرُبابل او د مشر اِمام یشوَع سره د جلاوطنئ نه
راواپس شول. ۲-۷اِمامان دا وُو: شرایاه، یرمیاه، عزرا، امریاه، ملوک، حطوش، سکانیاه، رحُوم، مریموت، عدو، جِنتو، ابیاه،
میامین، معدیاه، بِلجاه، سمعیاه، یویریب، یدعیاه، سلو، عموق، خِلقیاه او یدعیاه. د یشوَع په وخت کښې دا سرِی د خپلو ملګرو
اِمامانو مشران وُو. ۸لیویان: دا کسان د شُکر ګزارئ حمدوثناء مشران وُو، یشوَع، بِنوئی، قدمی‌ایل، سربیاه، یهوداه او متنیاه.
۹دې کسانو ورسره آواز نیولو، بقبوقیاه، عُنی او د هغوئ ملګرو لیویانو.

## د مشر اِمام یشوَع اولاد

۱۰یشوَع د یویقیم پلار وو، یویقیم د اِلیاسب پلار وو، اِلیاسب د یویدع پلار وو، ۱۱یویدع د یونتن پلار وو، او یونتن د یدوع پلار
وو.

## د اِمامانو د قبیلو مشران

۱۲-۲۱کله چې یویقیم مشر اِمام وو، نو دا اِمامان د اِمامانو د قبیلې مشران وُو: د شرایاه قبیلې اِمام مرایاه، د یرمیاه قبیلې اِمام
حننیاه، د عزرا قبیلې اِمام مسلام، د امریاه قبیلې اِمام یهوحنان، د مُلکُو قبیلې اِمام یونتن، د شبنیاه قبیلې اِمام یوسف، د حارِم
قبیلې اِمام عدنا، د مرایوت قبیلې اِمام حلقی، د عدو قبیلې اِمام زکریاه، د جِنتون قبیلې اِمام مسلام، د ابیاه قبیلې اِمام زکری، د
مینامین قبیلې یو اِمام هم وو. د معدیاه قبیلې اِمام فِلطی، د بِلجاه قبیلې اِمام سموع، د سمعیاه قبیلې اِمام یونتن، د یویریب قبیلې
اِمام متنی، د یدعیاه قبیلې اِمام عُزی، د سلی قبیلې اِمام قلی، د عموق قبیلې اِمام عِبر، د خِلقیاه قبیلې اِمام حسبیاه، د یدعیاه
قبیلې اِمام نتنی‌ایل.

## د اِمامانو او لیویانو د کورَنو حِساب

۲۲کله چې اِلیاسب، یویدع، یوحانان او یدوع مشران اِمامان وُو نو د لیویانو د مشرانو فهرست تیار شو او هم داسې د فارس
بادشاه داریوس په زمانه کښې د اِمامانو د کورَنو د مشرانو حِساب کِتاب ساتلے شوے وو. ۲۳د اِلیاسب نمسی د یوحانان
وخت پورې د لیویانو د کورَنو مشرانو حِساب کِتاب د تاریخ په کِتاب کښې لیکلے شو.

## د خُدائ پاک په کور کښې ذمه وارئ

۲۴دا د لیویانو د کورَنو مشران دی: حسبیاه، سربیاه، یشوَع، بِنوئی، قدمی‌ایل. په هغه وخت کښې به دوو ډلو یو بل ته مخامخ
نمبر په نمبر د خُدائ پاک ثناء صِفت کولو او د هغهٔ شُکر به یې ادا کولو. دا به یې د هغه اصُولو په مطابق کول کوم چې د خُدائ
پاک خِدمت کوونکی داؤد بادشاه ورته ښودلی وُو. ۲۵د خُدائ پاک د کور دا خوکیداران د خُدائ پاک د کور د دروازو سره د
ګودامونو مشران وُو: متنیاه، بقبوقیاه، عبدیاه، مسلام، طلمون او عقوب. ۲۶دا خلق د یوصدق نمسی او د یشوَع زوئ یویقیم په
وخت کښې هلته اوسېدل او د نحمیاه حکمران په وخت کښې او د عزرا په وخت کښې چې اِمام او د شریعت عالِم وو.

## د نحمیاه د ښار دېوالونه وقف کول

۲۷کله چې د یروشلم د ښار دېوال وقف کېدلو، نو لیویان د هغه ټولو ځایونو نه راوستلے شول چرته چې هغوئ اوسېدل، هغوئ
د دې دپاره راوستلے شول چې د وقف کېدو په جشن کښې د شُکر گزارئ د سندرو سره او د چمټو او بینجو د موسیقئ سره
شریک شی. ۲۸د لیویانو کورَنو سندرغاړی د هغه علاقې نه راغونډ شول چرته چې هغوئ اوسېدل. هغوئ د یروشلم گېرچاپېره
علاقې نه او د نطوفه نه گېرچاپېره د وړو ښارونو نه، ۲۹او د بیت‌جِلجال، جبعه او عزماوت نه راغلل. ۳۰اِمامانو او لیویانو د
خپلو ځانونو، خلقو، د دروازو او د ښار د دېوال دپاره د پاکوالی رسم ادا کړو. ۳۱ما د دېوال دپاسه د یهوداه مشران راغونډ کړل
او هغوئ مې د دوو لویو ډلو مشران مقرر کړل چې د ښار نه گېرچاپېره روان شی او د خُدائ پاک شُکر ادا کوی. اوله ډله د
دېوال دپاسه ښی طرف ته د ډېران دروازې طرف ته لاړه. ۳۲هوسعیاه د سندرغاړو نه وروستو روان شو، چې د یهوداه نیم
مشران ورپسې وُو. ۳۳-۳۵دا اِمامان ورپسې روان شول چې بیگلې یې غږولې: عزریاه، عزرا، مسلام، یهوداه، بنیامین، سمعیاه او
یرمیاه. ورپسې زکریاه زوئ د یونتن، زوئ د سمعیاه، زوئ د متنیاه، زوئ د میکایاه، زوئ د زکور، زوئ د آسف راغلۀ. ۳۶په
هغۀ پسې د هغۀ د قبیلې نور کسان وُو: سمعیاه، عزرابل، مِللی، جِللی، ماعی، نتنی‌ایل، یهوداه او حنانی. هغوئ ټولو د موسیقئ
هغه شان ځیزونه روان کړی وُو کوم چې د خُدائ پاک خِدمت کوونکی داؤد بادشاه غږول. عزرا عالِم د دې جلوس نه وړاندې
روان وو. ۳۷د فوارې د دروازې سره هغوئ په هغه پوړو باندې وختل کومې چې د داؤد ښار ته تلې وې، د داؤد د محل نه تېر
شول او د ښار نمرخاتۀ طرف ته د اوبو دروازې سره دېوال ته واپس شول. ۳۸د هغه کسانو بله ډله کومو چې شکریه ادا کوله د
دېوال د سر سره گس طرف ته لاړل او نیم خلق ما سره ورپسې روان وُو. مونږ د تنور د مینارې نه تېر شُو او پلن دېوال ته لاړُو،
۳۹او د هغه ځائ نه مونږ د اِفرائیم دروازې نه، یسانه دروازې نه، د کبانو دروازې نه، د حنن‌ایل مینارې او د سلو مینارې نه
روان وُو او د گډو دروازې ته لاړُو. او مونږ خپل تگ د خُدائ پاک د کور دروازې سره نزدې بس کړو. ۴۰هغه دواړه ډلو کومو
چې د خُدائ پاک شُکر ادا کولو هغه د خُدائ پاک د کور علاقې ته ورسېدلې. زۀ هم د مشرانو نیمې قبیلې سره وم، ۴۱زما په ډله
کښې دا اِمامان شامل وُو، چې هغوئ بیگلې غږولې: اِلیاقیم، معسیاه، مینامین، میکایاه، الیوعینی، زکریاه او حننیاه. ۴۲او په
هغوئ پسې معسیاه، سمعیاه، اِلیعزر، عُزی، یهوحنان، مُلکیاه، عیلام او ایصر روان وُو. د دې حمد ویوونکو مشری ازرخیاه
کوله او په اوچت آواز یې سندرې وئیلې. ۴۳په هغه ورځ باندې ډېرې نذرانې پېش کړے شوې او د خلقو زړونه د خوشحالی نه
ډک وُو ځکه چې خُدائ پاک هغوئ ډېر خوشحاله کړی وُو. ښځې او ماشومان په دې جشن کښې شریک وُو او چې هغوئ کوم
شور جوړ کړے وو نو هغه تر لرې لرې پورې اورېدے شو.

## د خُدائ پاک د کور انتظام

۴۴په هغه وخت کښې څۀ سړی د هغه گودامونو مشران مقرر شوی وُو، چرته چې د خُدائ پاک د کور دپاره ځیزونه کېښودلے
شول، په دې کښې نذرانه، وړومبے پیدا شوې غله او لسمه حِصه. دا سړی د مختلفو ښارونو سره نزدې پټو نه د برخو
راغونډولو ذمه وار وُو. دا برخې د قانون په مطابق د اِمامانو او لیویانو دپاره وې. د یهوداه ټول خلق د اِمامانو او لیویانو نه
خوشحاله وُو. ۴۵هغوئ د پاکوالی رسمونه او هغه نور رسمونه ادا کول د کومو چې خُدائ پاک حُکم ورکړے وو. د خُدائ پاک
د کور موسیقارانو او څوکیدارانو هم خپله ذمه واری د هغه اصُولو په مطابق سر ته رسوله کوم چې داؤد بادشاه او د هغۀ زوئ
سلیمان جوړ کړی وُو. ۴۶ډېر وخت مخکښې د داؤد بادشاه او آسف موسیقار د وخت، موسیقارانو د خُدائ پاک د ثناء صِفت
کولو او د شُکر گزارئ مشری کړې وه. ۴۷د زرُبابل او نحمیاه په زمانه کښې به ټولو بنی اِسرائیلو هره ورځ د خُدائ د کور د
سندرغاړو او څوکیدارانو ضرورتونه پوره کول. لیویانو ته به هغه برخه ورکولے کېدله کومه چې هغوئ دپاره مقرر وه او لیویانو
به د هغې نه اِمامانو له هغه برخه ورکوله کومه چې د هغوئ دپاره مقرر وه.

## د بنی اِسرائیلو نه د بل مُلک خلق جدا کول

١٣ ١ کله چې د موسیٰ شریعت خلقو ته په اوچت آواز لوستلے شو، نو هغوئ دې آیاتونو ته راغلل چې وائ، یو عمونی او
موآبی ته به هم دا اجازت نهٔ وی چې د خُدائ پاک په ډله کښې داخل شی. ٢ دا د هغې په وجه کله چې بنی اِسرائیل د مِصر نه
بهر په لار روان وُو نو عمونیانو او موآبیانو هغوئ له اوبهٔ او روټئ نهٔ وه ورکړې. او د دې په ځائ بلعام له ئې پېسې ورکړې چې
په بنی اِسرائیلو باندې لعنت ووائی، خو زمونږ خُدائ پاک هغه لعنت په برکت بدل کړو. ٣ کله چې بنی اِسرائیلو دا حُکم
واورېدو نو هغوئ د قوم نه د پردی مُلک ټول خلق وویستل.

## د نحمیاه اِصلاحات

٤ اِلیاسب اِمام کوم چې د خُدائ پاک د ګوداموونو مشر وو، هغه د ډېرې مودې نه د طوبیاه ملګرے وو. ٥ هغهٔ طوبیاه له
دا اجازت ورکړو چې یوه لویه کوټه استعمالوی چې به مخکښې په کښې د غلې نذرانو او خوشبویی نذرانو د جمع کولو او د
خُدائ پاک په کور کښې د استعمالېدونکی سامان دپاره، د اِمامانو د نذرانو دپاره، د غلې د لسمې حصې، د میو او د زیتُونو هغه
تېلو دپاره مخصوصه وه کومه به چې لیویانو، د خُدائ پاک د کور موسیقارانو او د خُدائ پاک د کور څوکیدارانو دپاره وه. ٦
کله چې داسې کېدل، نو زهٔ په یروشلم کښې نهٔ وم، ځکه چې د بابل بادشاه ارتخششتا د بادشاهۍ په دوه دېرشم کال زهٔ هغهٔ له
واپس ورغلے وم چې خبر وروروسوم. څهٔ وخت وروستو ما ته د هغهٔ نه اجازت مِلاو شو چې واپس یروشلم ته تلے شی. ٧
کله چې یروشلم ته راواپس شوم نو ما ته د دې بدعملۍ پته ولګېده چې اِلیاسب طوبیاه له اجازت ورکړے دے چې د خُدائ پاک
په کور کښې یوه کوټه استعمالوی. ٨ زهٔ سخت غصه شوم او د طوبیاه ټول سامان مې بهر وغورزولو. ٩ ما حُکم ورکړو
چې د کوټو د پاکوالی رسم دې ادا کړے شی او د خُدائ پاک د کور د سامان، د غلې نذرانې او خوشبوئی دې بیا واپس په خپل
ځائ باندې کېښودلے شی. ١٠ ما ته دا پته هم ولګېده چې د خُدائ پاک د کور موسیقاران او نور لیویان د یروشلم نه تلی دی
او خپلو پټو ته واپس شوی دی، دا ځکه چې خلقو هغوئ له دومره خوراک ورکولے نهٔ شو چې ګزاره وربانډې کېدله. ١١ ما
آفسران ورټل او ورته مې ووئیل چې د خُدائ پاک د کور خیال ولې نهٔ دے ساتلے شوے. او ما لیویان او موسیقاران واپس د
خُدائ پاک کور ته راوستل او بیا مې په کار لګیا کړل. ١٢ بیا ټول بنی اِسرائیلیان یو ځل بیا شروع شول چې د خُدائ پاک د
کور ګوداموونو ته خپل د غلې لسمه حِصه، مے او د زیتُونو تېل راوړی. ١٣ ما دا سری د ګوداموونو مشران مقرر کړل: شلمیاه،
چې یو اِمام وو، صدوق، چې د شریعت یو عالِم وو، او فدایاه لیوے. د متنیاه نمسے او د زکور زوئ حنان د هغوئ مددګار وو.
دا اعتباری کسان وُو، او د هغوئ دا ذمه واری وه چې په لیویانو باندې د سامان په تقسیمولو کښې د ایماندارۍ نه کار واخلی.
١٤ زما خُدایه پاکه، یاد ساته دا هر څهٔ چې ما ستا د کور او د دې د عبادت دپاره کړی دی او دا مهٔ هېروه. ١٥ په هغه وخت
کښې ما ولیدل چې په یهوداه کښې خلقو د سبت په ورځ د انګورو لنګری استعمالوله. او نورو په خپلو خرونو باندې غله، مے،
انګور، اینځر او نور څیزونه بار کول او یروشلم ته ئې وړل، ما هغوئ له خبردارے ورکړو چې د سبت په ورځ دې هیڅ نهٔ
خرڅوی. ١٦ د صور ښار څهٔ خلق په یروشلم کښې اوسېدل او هغوئ کبان او د هر قِسم سامان ښار ته د دې دپاره راوړو چې
د سبت په ورځ ئې زمونږ په خلقو باندې خرڅ کړی. ١٧ ما د یهوداه مشران ورټل او ورته مې ووئیل، ”تاسو خپل دې بد عمل ته
وګورئ. تاسو د سبت د ورځې سپکاوے کوئ. ١٨ دا بلکل هم هغه کار دے چې خُدائ پاک پرې ستاسو پلار نیکهٔ له سزا
ورکړه چې کله هغهٔ په ښار باندې تباهی راوسته. او تاسو نور زور هم کوئ چې د بنی اِسرائیلو په مُلک باندې د خُدائ پاک نور
قهر هم نازل شی ځکه چې د سبت د ورځې سپکاوے کېږی.“ ١٩ نو ما حُکم ورکړو چې د هر سبت د شروع کېدو نه وړاندې د
ښار دروازې په ماښامی کښې بندولے شی او د سبت د ورځې د ختمېدو نه وړاندې دې نهٔ شی کولاوولے. ما خپل یو څو سری
په دروازو باندې د دې دپاره ودرول چې دا خبره یقینی شی چې د سبت په ورځ به ښار ته هیڅ هم نهٔ شی راوړلے. ٢٠ یو یا دوه
ځل سامان خرڅوونکو او سوداګرو د خالی شپه د ښار د دېوالونو نه بهر تېره کړه. ٢١ ما هغوئ له خبردارے ورکړو، ”تاسو د
دې دېوال سره شپه ولې تېروئ کهٔ تاسو بیا داسې وکړل، نو زهٔ به تاسو خراب‌تُراب کړم.“ نو د دې نه پس هغوئ د سبت په ورځ
بیا رانهٔ غلل. ٢٢ ما لیویانو له حُکم ورکړو چې خپل ځانونه پاک کړئ او لاړ شئ او د دروازو څوکیداری وکړئ چې د سبت
ورځ مقدسه پاتې شی. خُدایه پاکه، ما د دې دپاره هم یاد ساته او د خپلې لوئې مینې په وجه مې بچ کړه. ٢٣ په هغه وخت کښې
ما ته دا پته هم ولګېده چې څهٔ یهودی سړو د اشدود، عمون او د موآب د ښځو سره ودونه کړی دی. ٢٤ د هغوئ نیم اولاد د

اشدود ژبه او یا څۀ بله ژبه وئیله او هغوئ زمونږ ژبه نۀ شوه وئیلے. ۲۵ ما هغه سړو له خبردارے ورکړو، په هغوئ مې لعنت
ووئیلو، ومې وهل او وېښتۀ مې ترې نه وویستل. بیا مې ترې نه د خُدائ پاک په نوم باندې دا قسم واخستو چې هغوئ او د هغوئ
بچی به هیڅکله د پردی مُلک د خلقو سره ودونه نۀ کوی. ۲۶ ما ورته ووئیل، "سلیمان د پردی مُلک د ښځو په وجه ګناه وکړه.
هغه داسې سړے وو چې هغه د نورو قومونو د هر یو بادشاه نه لوئ وو. خُدائ پاک د هغۀ سره مینه کوله او هغه یې د بنی
اِسرائیلو په ټول مُلک باندې بادشاه جوړ کړے وو، خو بیا هم هغه د پردی مُلک ښځو په ګناه باندې اخته کړو. ۲۷ نو مونږ به
بیا د ګناهِ کبیره داسې عمل څنګه وکړُو چې د خُدائ پاک سره بېوفائی وکړُو او د پردی مُلک ښځو سره ودونه وکړُو؟" ۲۸
یویدع د مشر اِمام اِلیاسب زوئ وو، خو د یویدع یو زوئ د بیت‌حورون د ښار د سنبلط د لور سره وادۀ وکړو، نو ما یویدع دې
ته مجبور کړو چې یروشلم پرېږدی. ۲۹ خُدایه پاکه، هغه راپه یاد کړه چې دې خلقو د اِمامت او د هغه لوظ سپکاوے څنګه
وکړو چې کوم لوظ تا د اِمامانو او لیویانو سره کړے وو. ۳۰ نو ما خلق د پردی مُلک د هر یو څیز نه صفا کړل، ما د اِمامانو
او لیویانو دپاره اصُول څکه جوړ کړل چې هر یو کس خپله خپله ذمه واری وپېژنی، ۳۱ ما د لرګو بندوبست وکړو چې هغه به
د هغه نذرانو په سوزولو کښې استعمالېدل چې کومې نذرانې به په صحیح وخت راوړلے شوې، دا کار مې هم وکړو چې خلق د
خپلې وړومبۍ غلې او خپلې وړومبۍ پخې شوې مېوې راوړی. خُدایه پاکه، دا هر څۀ مۀ هېروه او را یاد کړه.